ليکونکي: ب. شفق ۲۰۱۰/۰٤/۱۲م

# دښاغلي کرزی جرأ ت دستايلو وړ دي.

که څه هم ښاغلي  کرزي دڅه مودي را هيسي کله نا کله د خارجيانو د بی حده خود سريو څخه په اصطلاح په« ډيپلوماتيکه ژبه» سر ټکاوه ، خودا ځل يي ښه په واضح   ډول او« دولس په ژبه» خپل ولس ته وويل چي خارجيان داسي( بی شرمانه کارونه =  حکمونه) کوي چي  کيدای شي (همکاري په اشغال او بغاوت په مقاومت واړوي او.........................).
دښاغلي کرزي ددي بيانيی وروسته په جمعي اطلاعاتي  رسنيو کي مختلفو خلکو او د نظر خاوندان خپل نظرونه څر ګند کړل. څوک وايي کرزي ښه وويل!   څوک وايی کرزي ښه ونه ويل ځکه چي خارجيان به خوابدي شي، خپل کومکونه به قطع کړي او خپل عسکر به دافغانستان نه وباسي. اوپه نتيجه کي به هرڅه خراب شي !
محترم لوستونکی او ګران وطنوال پدي ښه پوهيږي چي په تيروو ختوکي هم زمونږ ګران وطن ته خارجيان د خپلو عسکرو او تخريبوونکو ډول ډول وسلو او د مشاورينو په نامه (باصلاحيته آمرينو) سره  راغلي په خپل سريی هرڅه چي غوښتل کړيدي خو لاس پوڅي مشر يی په مقابل کی حتّی د يو معقول دليل د ويلو جرأت هم ندي کړي. خوکله چي دغه بيګانه ګان  بيرته خپل وطن ته ستانه شوي حتّی همدغو خارجی باصلاحيته د مشاورينوپه نامه (باصلاحيته آمرينو) دهغه ګوډاګي
دبی شرمه او بی چون وچرا غلامی  څخه   پرده پورته کړي او رسوا کړی يی دی.
( وګوری کتاب : په افغانستان کي ر ښتيا څه تيرېدل !: د افغانستان د ا شغال په وخت کي په افغانستان کي دروسی فوځ د مشر ليکنه اودډاکتر داوود جنبش پښتوژباړه)
ـ  تاريخ  د هيڅا  لحاظ او خا طر نه کوي او ښاغلی کرزي دي ټکي ته متوجي شويدي او يايی کوم خوا خوږي متوجی کړي دي. چی بايد په راتلونکي کي ددريم شاه شجاع دنامه دګټلو څخه  ځان بچ کړي . او دا يو ښه شګون دي.
ـ  د بلي خوا ښاغلی کرزي د خپلو مسلحو مخالفينو سره د مذاکري او مصالحی نيت څرګند کړی دي
کوم چي په د اخل او خارج کی يی يو تعداد معلومي کړی ځينی په ښکاره او ځينی به پټه مخالفت کوي. د باندنيو کړيوتشويش دادی چي: که کرزي د مسلحو مخالفينو سره آشتي وکړی افغانستان به بيرته دطالبانو توری دوری ته وګرځي، اونو بنياده  او تنکی دموکراسي به ځای په ځای وچه شي.
 مکتبونه به وتړل شي. ښځی به په کورونوکي بنديواني او بورقي به ور په سرشي. ځينی دا فکتور ور ګډوي چی بيا به خارجی عسکرو ته په افغانستان کی د پاتی کيدو بهانه پاتی نشی.

**پاکستان او بد نامه فوځی استخباراتی اداره يی بيا پدی فکر کی ده چی بايد د کرزی حکومت د دی جهنمی اداری د سروالان د اجازی پرته در خپلو مخالفينوسره خبری و نکړی.**

 دداخلي کړيو په خيټه کي درد بيا ددی کبله دي چی که کرزی د دولت دمسلحومخالفينوسره مصالحه  وکړی پښتانه به اکثريت شی اوپه قدرت کي به ددوی برخه کمه شي.
 داټولي ذکر شوي داخلی او خارجی کړی غواړي چي د کرزي په مقابل کي مخالفتونه راوټوکوي. کرزی ددی ټولو دسيسو څخه تر نورو ټولو خلکو ( په غير دپورته ذکر شووکړيو) ښه خبر دی.
لکه چی  ښ. کرزی ورځخه پرده پورته کړه دانتخاباتودشکايتونو د کميسيون خارجي غړواود ملګرو ملتونو داداری مرستيال ( چی بايد مطلق بی طرفه وای) په څومره سپين سترګی د انتخاباتو  د کميسيون رئيس ، منشي او غړی تهديد او تطميع  کول او امر او نهي يی کول.

له همدی کبله به ؤ چي ښ. کرزي د يو نوی تقنينی فرمان په واسطه دانتخاباتو زوړقانون لغوه کړ،  چي په حقيقت کی يی د انتخاباتو دکميسيون دری تنه خارجي غړی برطرفه او په عوض کی به يی دری کسه افغانان مقررشي.  چي دا په حقيقت کی ديو افغانی مهم نهاد خپلواکه کول دی. خو لکه چی خارجيانو ګواښ کړی ؤ ديوی بلی و سيلی څخه ا ستفاده وشوه اوهغه دا چی د ا نتخاباتو  نوی تقنينی فرمان د ولسی جرګی پوا سطه رد کړل شو. ( بی لدی چی ولسی جرګه پدی ځان وپوهوي چی درد صلا حيت يی نه لري)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دا ټولی مسئلی دملت دسترګو پټی تیریدی.  نو  بښ. کر زي به دا فکر کړې وي چی که ملت او خلک پدی مسائلوخبر شی دیوی خوا به یی خپل مخالفین رسوا کړی وی اودبلي خوا به یی افغان ولس په هغو توطئو خبر کړی وی چی د پردی شاته تیریږی اوهم به یی د ا فغانانو خواخوږی لاس ته راوړی وي.
 چی په سیاست کی یو روا او ښه تکتیک دی او هیڅ عیب نلری.
**پاتی شوه د خارجیانو د خفه کیدو، دعسکرو دویستو، دکمکونو د قطع کیدواو د طالبانودوران ته د بیا ګر ځیدو دتشویش خبره**
د سیا ست په الفباء یوپوه کس به هم دا فکر ونکړي چی خار جیان به د ښ. کرزي په انتقاد دومره شدید عکس العمل وښیی چی د عسکرو دویستلوفیصله دی وکړي. خارجیان نه د ښ . کرزی په بلنه افغانستان ته را غلي او نه د هغه په انتقادونو افغانستان خوشی کوي. هغوی خپلي موخي او هد فونه لري. او تر هغي افغانستان نه خوشی کوی چی خپلو هدفونوته نه وی رسیدلی او یایی خپلی ګټی ایجاب نکړي.
 د مسلحو مخالفینو سره د  مصالحی په باب خو ښ. کرزي په کراتوویلی دی چی یوازی د هغو مسلحو مخالفینو سره مصالحه غواړی کوم چی وغواړی دجنګ څخه لاس واخلی او د ا فغانستان اساسی قانون ومنی او خپل عادی ژوند ته راوګرزي.
دا خو دطالبانودوران ته د ګر ځیدومعني نه لري بلکي بر عکس دطالبانو ددوران څخه ددمو کراسۍ اوسوله ایز دوران ته دراګر خیدو معنی لری چی کوم عیب پکي نه لیدل کیږي.
 په آخر کي غواړم رو ښانه کړم چی زه هم د ښاغلي کرزی دډیروکارونواو پالیسیوسره موافق نه یم  ولی هرڅه ته په تورو عینکو کتل راته انصاف نه ښکاري.
**دغلییمانو دلاسه وران، کنډر کنډر هیواد او خپلو مظلومو هیوادوالو سره په توده مینه.**

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ